مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۸۶** (از ۲۹ سنبله الی ۵ میزان ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........................................ ۳

**نوی حکومت او راتلونکي ننګوني**

- د ټاکنو پر پایله څو ټکي ........................................ ۴
- لندمهالي حل لاره؛ د ستونزي پیل که پای؟ ........................................ ۵
- موازي جوړښتونه ........................................ ٦
- امنیتي تړون ........................................ ٦
- سوله ........................................ ۷






## پیام مشوره‌های حامد کرزی به حکومت جدید


- خواست‌های پاکستان ............................................................................ ۱۰
- روابط با امریکا و غرب ............................................................................ ۱۱






# مقدمه

در این شمارۀ «تحلیل هفته»، موضوعات چون تشکیل حکومت وحدت ملی، چالش‌های پیشروی حکومت جدید و مشوره‌های اخیر رئیس جمهور کرزی به این حکومت را، از بخش تحلیل مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی می‌خوانید.

پروسۀ انتخابات ریاست جمهوری افغانستان پس از حدود شش ماه، با تقسیم قدرت میان دو نامزدی که در دور دوم باهم رقابت کردند، به پایان رسید. اگرچه این انتخابات نتیجۀ دلپسندی را برای افغان‌ها نداشت، ولی از آنجاییکه طولانی شدن این پروسه و جنجال‌ها میان دو نامزد ریاست جمهوری بر سر قدرت، افغان‌ها را دلسرد و مأیوس کرده بود، از توافق سیاسی آنان به سطح ملی و بین‌المللی استقبال شد.

این توافق سیاسی، کشور را لااقل از یک بحران و کشمکش‌های احتمالی نجات داد و زمینه را برای انتقال مسالمت‌آمیز قدرت مساعد ساخت؛ اما اینکه دو قدرت موازی در پیشبرد امور حکومت با اختلافات و مشکلاتی در آینده روبرو خواهند بود، حالا نگرانی جدی شمرده می‌شود.

رئیس جمهور کرزی نیز در نشست مراسم خدا حافظی با کارمندان دولتی، در آخرین سخنرانی خود به عنوان رئیس جمهور افغانستان، در مشوره‌های خود به حکومت جدید سفارش کرد که در روابط با امریکا و غرب محتاطانه برخورد کند.

اینکه هر دو نامزد تا چه حدی تعهدات خود را در این ترکیب جدید عملی خواهند کرد؟ و حکومت جدید در حال حاضر عملاً با چه مشکلات و چالش‌ها روبرو است؟ پرسش‌هایی اند که در کنار سائر مسائل در اینجا مورد بحث قرار گرفته‌اند.

# نوی حکومت او راتلونکې ننګوني



## د ټاکنو پر پایله څو ټکي

د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرته له دې چې د رایو د شمېر له مخې بریالی نوماند اعلان کړي، اشرف غني احمدزی د ولسمشر په توګه او ډاکتر عبدالله عبدالله د اجرایوي رییس په توګه اعلان کړل. که دا کمیسیون په رښتیا هم خپلواک و او په هېواد کې ټاکنې شوې وې، خلکو رایه ورکړې وه؛ نو بیا خو دا اعلان ستر شرم او د قوانینو تر پښو لاندې کول وو. د کمیسیون دنده دا وه چې د رایو د شمېر له مخې یو بریالی نوماند اعلان کړي، د سیاسي جوړجاړي ځای د ټاکنو کمیسیون نه و. ټاکنې دې ته نه وایي، چې خلک دې د خپلې خوښې نوماند ته رایه ورکړي او په پایله کې دې دواړه بریالي شي او هر یوې دې په حکومت کې 50 سلنه ونډه ولري.

که څه هم د دواړو ټاکنیزو ډلو له خوا په حکومت کې د واک د وېش په تړاو، د هوکړه لیک له لاسلیک سره لړترلړه د لومړي ځل لپاره د واک سوله ییز انتقال ته زمینه برابره شوه او په دې توګه هېواد له یوه احتمالي کشمکش څخه وژغورل شو؛ مګر له دې حقیقته سترګې نه شي پټېدلی، چې ټاکنیز جنجال ته د افغانستان د اساسي قانون له چوکاټه بهر حل لاره ولټول شوه او په پایله کې یې د ملي وحدت تر نامه لاندې حکومت جوړ شو. دا چې د دولت له وسله والو مخالفینو سره د سولې په خبرو کې تل لومړی شرط، پر هغوی د اساسي قانون منل وي؛ نو بیا خو ښه دا وه چې په دې جوړجاړي کې، چې اساسي قانون پکې تر پښو لاندې شو، د ملي وحدت د ښه مراعات لپاره د دولت وسله وال مخالفینو ته هم د ونډې ورکولو هڅه شوې وای.

دا هم د تأسف وړ ده، چې د دواړو نوماندانو تر منځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک په پای کې د ملګرو ملتونو د استازي "یان کوبیش" او د امریکا د سفیر "جیمز کننګهم" نومونه د شاهدانو یا تضمین کوونکو په حیث لیکلي وو، چې واقعاً د افغانانو لپاره

ستر توهین دی. د ملګرو ملتونو د استازي نوم که تر یوه بریده د توجیه وړ وي؛ خو د امریکا د سفیر نوم بیا په ښکاره د دې ښودنه کوي، چې افغانستان ازاد نه دی او دا خبرې چې افغانستان یو ازاد هېواد دی، یوازې یوه کاذبه ادعا بلل کېدای شي.

## لنډمهالې حل لاره؛ د ستونزې پیل که پای؟

افغانستان تل د پردیو له خوا د تپل کېدونکو لنډمهالو حل لارو قرباني شوی او دا ځل هم د ټاکنو د لانجې د هواري لپاره، له یوې لنډمهالې حل لارې کار واخېستل شو. د ملي وحدت تر نامه لاندې، د پردیو د فشار په پایله کې د دوو ټاکنیزو ډلو ترمنځ واک په مساوي ډول ووېشل شو، چې په نتیجه کې به یې له شک پرته خورا کمزوری حکومت جوړېږي او په دې توګه به د راتلونکو پېنځو کلونو لپاره یو ځل بیا د امریکا او لوېدیځ د دسیسو پلې کېدو او په افغانستان کې د ګاونډیانو لاسوهنې ته لار هواره وي.

د ټاکنیزې پروسې له لارې د دواړو نوماندانو واک ته رسېدل په ښکاره د افغانستان د اساسي قانون تر پښو لاندې کېدل او د یوه ناقانونه حکومت د رامنځته کېدو په معنا دي. د کورنیو او بهرنیو فشارونو په پایله کې د اجرایوي ریاست د څوکۍ رامنځته کول، هغه پرېکړه ده چې دایمي حل لاره نه، بلکې په راتلونکې کې د ستونزو د دوام بنسټ اېښودل دي.

له ځینې افغانانو سره لاهم دا تمه شته ده، چې که دواړې ډلې په حکومت کې د خپلمنځي اختلافاتو ښکار نه شي، د دواړو لورو له خوا ورکړل شوې ژمنې به عملي شي؛ مګر دا ښکاره خبره ده، چې دوه موازي قدرتونه د حکومت چارې په هغه شان چې تمه یې کېږي، هېڅکله هم مخته نشي وړلی او دا هغه حقیقت دی، چې د ملت ترڅنګ به ښایي له اشرف غني احمدزي او عبدالله عبدالله سره هم په دې اړه اندېښنې وي؛ ځکه ډېر داسې موضوعات په مخکې پراته دي، چې په تړاو یې د دوی ترمنځ د ټکر احتمال شته دی او دا چې له بریالی او ناکامې ډلې ګډ جوړ شوی حکومت به څومره وزن ولري؟ او څومره به یې تصمیمونه سره شریک وي؟ د راتلونکې په تړاو ناځوابه پوښتنه ده.

د نړۍ په کچه د افغانستان وروستی ټاکنې، چې یوه ټاکنیزه ډله وتوانېده د ټاکنو پایلې پوره شپږ میاشتې وځنډوي او په پایله کې هم دواړه نوماندان بریالي شي، د یوې نمونې په توګه ثبت شوې او که ولس له دغه حکومت څخه بیا هم څه تمه لري، دا به یوه تېروتنه وي او ملت باید اوس په دې پوه شوی وي، چې د یوې سترې توطئې قرباني او له سترو ازموینتونو سره مخ دی.

د نوماندانو تر منځ لاسلیک شوی هوکړه لیک له تضادونو سره مل دی، چې په راتلونکې کې به د دواړو لورو تر منځ د ستونزو د دوام لامل وي. د کابینې له جوړېدو نیولې د نورو حکومتي جګپوړو او ټیټپوړو چارواکو تر ګومارنې پورې به د دواړو ډلو تر منځ ستونزې راولاړېږي. د ټاکنو د جنجال پای ته رسېدل، په حقیقت کې د افغانانو پر برخلیک د لوبو د یوې ډرامې پای او د بلې پیل دی.

کېدای شي ډاکټر اشرف غني احمدزی او ټاکنيزه ډله به يې تر يوه بريده په دې خوښ وي، چې رسماً د هېواد ولسمشر اعلان شو؛ خو دا به وروسته ورته څرګنده شي، چې د کرزي په څېر به د ده لاسونه هم له څو لورو تړل شوي وي. که د دواړو نوماندانو په اراده بدګوماني هم ونه کړو، خو لږ تر لږه دا څرګنده ده چې د اوسني توافق له مخې جوړ شوی ترکيب، هېواد هېڅکله هم له راتلونکو بدمرغيو نه شي ژغورلی.

## موازي جوړښتونه

د ولسمشر په توګه د اشرف غني احمدزي تر اعلانولو وروسته نومورې په خپله لومړۍ رسمي وينا کې پر خپلو ژمنو ټينګار وکړ او ويې ويل، چې نوی حکومت به موازي جوړښتونه له منځه يوسي. د موازي حکومتونو او جوړښتونو د ټکي هدف، تر ډېره بلخ ولايت او د دغه ولايت زورواکی والي عطامحمد نور وي.

عطامحمد نور د نوماندانو ترمنځ د هوکړه ليک تر لاسليک کېدو وروسته هم له رسنيو سره په خبرو کې، اشرف غني احمدزی د خلکو د رايو له لارې واک ته رسېدلی ولسمشر ونه باله او ويې ويل چې دی به د ولسمشر د لوړې په مراسمو کې ګډون ونه کړي.

خو د اشرف غني احمدزي په لومړۍ وينا کې د موازي جوړښتونو د له منځه وړلو په تړاو بيا نومورې ويلي، چې د ده لړې کول اسانه کار نه دی. ځکه نو داسې ښکاري چې په واک کې د عطامحمد نور د ډلې ۵۰ سلنه ونډه او نور لاملونه به د دې لامل شي، چې اشرف غني احمدزی خپله دا ژمنه پوره نه شي کړای.

د تېرې دورې په پرتله به راتلونکی حکومت له خورا زياتو ننګونو سره مخ وي، له يوې خوا د تېرې دورې ستونزې ورپاتې دي چې د پاکستان توغنديز بريدونه او له پاکستان سره رواني ستونزې، د هېواد امنيت او سوله، اداري فساد او نورې ټولنيزې ستونزې يې د بېلګې په توګه يادولی شو؛ او له بلې خوا په حکومت کې دننه دوه موازي قدرتونه هغه ستره ستونزه ده، چې ښايي يو نوماند يې هم له امله خپلې ورکړې ژمنې پوره نه شي کړای.

## امنيتي تړون

د انتخاباتي لانجې له پای ته رسېدو سره سم، امريکايي چارواکو تر يوې اوونۍ پورې د افغانستان او امريکا تر منځ د امنيتي تړون د لاسليک خبره وکړه؛ کوم څه چې په افغانستان او سيمه کې د امريکا د راتلونکو پلانونو او دسيسو د تطبيق لاره پرانيزي.

که دا تړون په هماغه بڼه په پټو سترګو لاسلیک شي، چې متن یې د ولسمشر کرزي له خوا راغونډتل شوې مشورتي لویې جرګې ته وړاندې شوی و، دا به د افغانستان د دایمي ستونزو پیلامه وي. په دغه تړون کې د هغو موضوعاتو په تړاو، چې ځینې افغانانو یې د لاسلیک لپاره دلیل ګرځاوه، له افغانستان سره د هېڅ ډول الزامي مرستو ژمنه نه ده شوې.

داسې ګنګوسې شته دي، چې د نوي ولسمشر د لوړې تر مراسمو 24 ساعته وروسته به، د کابل-واشنګټن امنیتي سند لاسلیک شي. پر حامد کرزي د دغه سند د نه لاسلیک کولو له کبله، په هېواد کې دننه او له هېواده بهر بېلابېل فشارونه وارد شول؛ خو کرزي د امنیتي تړون د لاسلیک له کبله د افغانستان راتلونکې بدمرغي درک کړه او د دغه تحمیلي او ننګین تړون د لاسلیک لومړنی شرط یې د سولې د راتګ لپاره د عملي کار پیلول کېښود، کوم څه چې امریکا یې نه غواړي.

خو اوس د ټاکنیز جنجال له پای ته رسېدو سملاسي وروسته، ډاکټر عبدالله عبدالله له سي ان ان تېلوېزیون سره په مرکه کې ویلي، چې د ولسمشر د لوړې له مراسمو یوه اوونۍ وروسته به، د کابل او واشنګټن تر منځ امنیتي سند لاسلیک شي؛ له دې وړاندې اشرف غني احمدزی هم د دغه سند له لاسلیک سره موافقه ښودلې؛ خو د ولسمشر په توګه د دغه ستر مسؤولیت پر وړاندې ښایي لږترلږه څه ملاحظې ولري؛ ځکه د تړون لپاره چمتو شوی متن دا مهال د غالب او مغلوب تر منځ د تړون بڼه لري او افغانستان ته هېڅ ډول ژمنه نه ده پکې ورکړل شوې؛ مګر ډاکټر عبدالله عبدالله یې په اړه له وخته مخکې څرګندونې کوي، چې د بهرنیو فشارونو ښکارندویې دي.

د افغانستان د ټاکنیز بهیر بدنامېدل او بیا دومره اوږدېدل اصلا د یوه کمزوري او له اختلافاتو ډک حکومت د رامنځته کولو لپاره دسیسه وه، چې په پایله کې به یې امریکا د ولسمشر او اجرایوي رییس تر منځ له اختلافاتو په ګټې اخېستنې سره، د خپلو ګټو د ترلاسه کولو په لټه کې وي.

په راتلونکي حکومت به د دغه سند د اوسنی بڼې د لاسلیک لپاره فشارونه سملاسي پیل شي؛ خو که د افغانستان راتلونکی په پام کې ونه نیول شي او په پټو سترګو لاسلیک شي، همدا به د افغانستان د بدمرغی پیلامه وي.

## سوله

د سولې راتګ هم اوس د ټولو افغانانو پر خولو د شعار په توګه ګرځي راګرځي؛ خو د سولې پر وړاندې تر ټولو ستر خنډ د امریکا او افغانستان تر منځ د لاسلیک کېدونکي امنیتي تړون په چوکاټ کې دلته پاتې کېدونکي بهرني سرتېري دي او په افغانستان کې د امریکا د نظامي حضور له دوام سره د سولې د راتګ شعار د ملت د غولولو په معنا دی.

حامد کرزي د ځووم ځل لپاره دا خبره په خپله وروستۍ وینا کې بیا هم تکرار کړه، چې د افغانستان سوله د امریکا او پاکستان په لاس کې ده. دا هغه حقیقت دی، چې اوس ټولو افغانانو منلی دی. په رښتیا هم امریکا د افغانستان د جګړې په دوام کې خپلې ګټې ویني او که یې غوښتي وی، په افغانستان کې د سولې ټینګښت په تېرو کلونو کې هم شونی و.

که څه هم اشرف غني احمدزي افغانانو ته ټینګې ژمنې ورکړې او د ولسمشر په توګه یې په خپله لومړۍ وینا کې هم وویل، چې د دولت له وسله والو مخالفینو سره به یې سوله لومړی کار وي او په ډاګه یې کړه، چې سیاسي مسائل باید د سیاسي حل لارو له مخې حل او فصل شي؛ مګر د سولې پر وړاندې د نورو بنسټیزو لاملونو ترڅنګ د حکومت په دننه کې دوه دریځونه هم یو جدي خنډ بلل کېږي. ډاکتر عبدالله عبدالله له سي ان ان سره په وروستۍ مرکه کې ویلي، چې که وسله وال طالبان جګړې ته دوام ورکړي، نو حکومت هم باید د سولې پر ځای له هغوی سره د جګړې لار غوره کړي.

## پیام مشوره‌های حامد کرزی به حکومت جدید



حامد کرزی در روزهای اخیر ریاست جمهوری خود که در مراسم خدا حافظی با کارمندان دولتی در ارگ ریاست جمهوری سخن می‌گفت، با اشاره به چالش‌های آینده در برابر حکومت جدید افغانستان، مشوره‌هایی را بر اساس تجربۀ سیزده سالۀ حکومت خود با حکومت آیندۀ کشور شریک ساخت.

هرچند دست حامد کرزی در زمان حکومتش به دلیل توطئه‌های امریکا و غرب بسته بود، ولی با آن هم برخی موقف‌گیری‌های او در سال‌های اخیر ریاست جمهوری‌اش، لااقل نشانگر نارضایتی و ایستادگی وی در مقابل امریکا و غرب بود.

آقای کرزی در آخرین سخنرانی خود به حیث رئیس جمهور افغانستان، یک بار دیگر با انتقاد از سیاست‌های دوگانۀ امریکا در قبال افغانستان، از حکومت آیندۀ کشور خواست تا در روابط با امریکا و کشورهای غربی محتاط باشد. به گفتۀ او، امریکا در افغانستان اهداف مشخصی را دنبال می‌کند و به خاطر رسیدن به اهدافش خواهان تامین صلح در افغانستان نیست.

رئیس جمهور کرزی امریکا و پاکستان را مانع اصلی تامین صلح در افغانستان خواند و با اشاره به مداخلۀ پاکستان در امور افغانستان، اظهار داشت که پاکستان در طول سال‌های گذشته تلاش پذیرش خط دیورند از سوی افغان‌ها و تسلط بر سیاست خارجی افغانستان را داشت.

## خواست‌های پاکستان

حامد کرزی در جریان سخنرانی خود، پاکستان را یک مانع بزرگ در راه صلح افغانستان عنوان نموده به شرطهای دوگانهٔ جانب پاکستان در پروسهٔ صلح افغانستان، اشاره کرد. با آنکه قضیهٔ خط دیورند تا حدی عادی شده است؛ اما تلاش پاکستان برای کنترول سیاست خارجی افغانستان، یک قضیه بسیار مهم بوده و قابل تجاهل نمی‌باشد.

بدون شک تعامل و مبارزه با سیاست دوگانهٔ پاکستان در قبال افغانستان، کار آسان نیست. پاکستان نیز این سیاست را با همکاری امریکا اختیار نموده است. پس از اعلام اشرف غنی احمدزی به عنوان ریس جمهور منتخب افغانستان، بلافاصله نواز شریف نخست وزیر پاکستان به او تبریکی گفته و او را برای سفر به پاکستان دعوت نمود. اما در پشت پرده، نظامیان پاکستانی در همان شب ۱۹ راکت بر ولایت کنر نیز پرتاب کردند که این خود بی‌صلاحیتی نوازشریف در قضیهٔ افغانستان را نشان می‌دهد. حقیقتاً استخبارات نظامی پاکستان (آی اس آی) سیاست خارجی پاکستان در قبال کشمیر، هند و افغانستان را میراث خود می‌داند.

ایجاد یک راه‌کار نیرومند مبارزه با سیاست دشمنانهٔ پاکستان، باید در اولویت‌های کاری رئیس جمهور و حکومت آینده قرار داشته باشد؛ چون در دورهٔ سیزده‌سالهٔ گذشته سیاست خارجی کشور در قبال پاکستان بسیار ضعیف بوده و اگر به ادامهٔ همان سیاست، بجای اردوی پاکستان به حکومت ملکی تکیه شود، بدون شک افغانستان از شر پاکستان نجات نخواهد یافت.

کشمکش‌هایی که همین حالا در پاکستان جریان دارند و طرفداران عمران خان و طاهر القادری برای برکنار کردن نواز شریف دست به اعتراض زده‌اند، بیشتر تحلیلگران به این نظر اند که از حمایت استخبارات نظامی آن کشور برخوردار اند و از همین‌رو نواز شریف توان مبارزه با آن‌ها را ندارد. بناء حکومت ملکی پاکستان در قضیهٔ صلح افغانستان چه کاری کرده می‌تواند؟! بهتر است حکومت جدید افغانستان از اردوی پاکستان پاسخ صریحی درخواست نماید که آیا در «عمق استراتژیک» پاکستان، بجز از این دو خواست عمق دیگری نیز است یا خیر؟ تا پس از آن بربنیاد گفتگو با اردوی پاکستان، مشکل افغانستان با این کشور را، در سطح جهانی مورد مناقشه قرار داده حل نماید. ولی باید به یاد داشت که این همه به تعامل حکومت افغانستان با امریکا نیز بستگی دارند، چون پاکستان به کمک انگلیس و امریکا این سیاست را به پیش می‌برد.

## روابط با امریکا و غرب

مشوره‌های حامد کرزی به حکومت جدید، به عنوان کسی که تجربهٔ سیزده سالهٔ روابط نزدیک با امریکا و غرب دارد، سوء نیت‌های آن‌ها در قبال افغانستان برایش نمایان شده و گاه‌گاهی در مقابل آن‌ها موقف‌گیری‌های مخالف نیز داشته است، مشوره‌ای است که اگر حکومت جدید واقعاً به آن توجه نکند، افغان‌ها به وضعیت بدتری نسبت به سیزده سال گذشته خواهند رسید و حسرت کرده‌ها و ناکرده‌های گذشتهٔ امریکا و غرب در افغانستان را خواهند خورد.

برای مردم افغانستان واضح شده که امریکا هیچ‌گاه برای قدرتمندی و نیرومندی افغان‌ها کمک نکرده و همیشه زیر کاسه، نیم کاسه‌ای وجود داشته است. کمک‌های امریکا با افغانستان، تنها برای تامین منافع خود شان بود. نیت خصمانهٔ غربی‌ها در قبال زمینه‌سازی برای ادامهٔ اعمال شوم آن‌ها در افغانستان، نیز به همه‌گان روشن است؛ ولی مهم‌تر این است که کشورهای غربی نه تا حال خواهان تامین صلح در افغانستان بودند و نه هم در آینده می‌خواهند تا در افغانستان صلح بیاید.

با آنکه رئیس جمهور جدید نیز از کنفرانس بن ۲۰۰۱ تاکنون در نظام سیاسی و حکومتی کشور دخیل بوده، اما مشوره‌های کرزی را باید هرگز فراموش نکند. هرچند می‌دانیم که موقف‌گیری‌های مخالف و واکنش‌های تند رئیس جمهور کرزی سبب تغییر پالیسی امریکا در قبال افغانستان نشد، پس برای حکومت آینده نیز بسیار مشکل خواهد بود که امریکا را به سیاست صادقانه با افغانستان وادار کند.

رئیس جمهور جدید باید بیاندیشد که چرا پروسهٔ انتخابات تا شش ماه به درازا کشیده شد؟ چرا یک پروسهٔ ملی تا این حد بدنام شد؟ دست‌های پشت پرده را که پروسهٔ انتخابات را به بحران کشانیدند، بشناسد و بداند که چه اهدافی داشتند؟

امریکا، ناتو وکشورهای غربی اهداف خود را با ادامهٔ جنگ در افغانستان دنبال می‌کنند و سخن از همکاری با افغانستان، تنها یک شعار است و بس. اکنون که امریکا از امضای پیمان امنیتی میان افغانسان و امریکا در مدت یک هفته سخن می‌گوید، خودش ثبوت این مدعاست که مقامات افغان به آن‌ها همین قدر ارزش دارند که از طریق آنان برای عملی نمودن پلان‌ها وبرنامه‌های خود راهی بگشاید. اگر حکومت جدید به همکاری‌های شعارگونهٔ امریکا اکتفا نموده و به دسیسه‌های دراز مدت آن‌ها توجه نکند، هیچ‌گاه آنچه را که مردم افغانستان چشم به راه آن است، به دست نخواهد آورد. پایان

---

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (+93)